## دعا

ستا په مینه کې توفیق د ثنا را کړې
الهي راته همت د وفا را کړې

ستا په مینه چې پرې ځان ستې کړم
د پتنګ غوندې په شمعې سزا را کړې

پاکه ربه ستا په عشق کې چې بیمار وي
رنځورانو ته مجال د دعا را کړې

چې دښمن باندې یرغل وکړو او مات شي
دې بریو ته د ایمان ښه سلاح را کړې

چې هر کار ته اتفاق باندې راټول شو
په هر کار کې له نفاقه پناه را کړې

ستا دربار کې به هېڅ کم نشي خالقه
چې وطن ته مو د سولې فضا را کړې

سترګې تل وي د روښن له اوښکو ډکې
د غو اوښکو ته سکون انتها را کړې





## غزل

دوخت یزید د سیمې واک اوس په پیرۍ نیولی
لکه حُسین زه په وچ ډاګ ورته سلګۍ نیولی

داسې چې درومې نو په لوړ اواز خبرې مه کړه
کنه ! یو بل ځوان نه هم عمر دې بلۍ نیولی

منم چې وخت دی ستا د حسن قېمت نلرمه
ای ! خو یو وخت کې مې بابا په اشرپۍ نیولی

هغه جانان مې چې مرګي هم ببلولی نه شو
هغه جانان مې ولا نن یوې جینۍ نیولی

روشنه تابد رنګ دی رنګ له تورې شپې اخستی
لیلا چې ښکلې ده دې حسن له سپوږمۍ نیولی

## فیصلې

چې راټول څو پښتانه شي پښتنې هم پکې اوسي
کړي اواز د تکبیرونو انګازې هم پکې اوسي

چې د ټولو سپین پټکي وي او د ټولو سره ټکري وي
سره یولاس وي یو موټی فیصلې هم پکې اوسي

یو وړوکی ټولی راشي او دښمن نېست او نابود کړي
ښکلي ښکلي شازلمي او قافلې هم پکې اوسي

چې اواز الله اکبر شي او بیرغ د افغان لوړ شي
نر او ښځې شي خوشحاله زمزمې هم پکې اوسي

له کوم لوري ډله راشي او جسد د روشن راوړي
چیغې چیغې شي ژړا شي جنازې هم پکې اوسي





## زرينې پاڼې

د کلي خلک یو د ښار په رواج نه پوهېږو
ساده باده یو ستا پر ښکلي مزاج نه پوهېږو

یاغی وطن دی بس هر څوک راځي او اوسي پکې
موږ د زولیت دعوه کوو خو په باج نه پوهېږو

مونږه له ځان سره د چا لخوا تیری نه منو
موږ له غلیم سره په یو ټغرناستی نه منو

مونږه همېش مینه پاللې موږه مینه پالو
چې مو په جنګ کې تویه کړې هغه وینه پالو

د زړه بدل کې همېشه خلکو ته زړه ورکوو
وینه په وینه باندې نه وینځو او به ورکوو

ازار ګټلي نه یو موږ د چا خبرې نه غواړو
د دعالته کې یو خولې د چا سپېرې نه غواړو

چې مو مطلب د لعل ګټل وي یو هر څه ته تیار
د ښامار خولې ته هم پرېوځو ترېنه نه کوو ډار

که همسایه مو یورانیم او ایټم بم جوړوي
نسل کشي کوي انسان ته ځنکدن جوړوي

موږ هم قلم لرو تاریخ لرو کتاب لرو
زموږه پاڼې دي زرینې مونږه باب لرو





## قلم

قلم لرو مونږه پښتو او فرهنګ واړه لرو
لاس کې بنګړي په سر پړوني او ننګ واړه لرو

نه ترخه وایو چاته نه د چا ترخه زغمی شو
په نرمه پایو ګني زشته او جنګ واړه لرو

چانه په هېڅ شي کې کم نه یو موږ یې رنګ څه کوو
رنګونه هم لرو موږ تور، غنم رنګ واړه لرو

د ملنګانو دود خانې ته به راځې خماره
چلم دی ایښی سګرټ ډک دی او بنګ واړه لرو

چې یې منګی ترڅنګ نیولی وي ګودر ته درومي
د دې پېغلوټې خوشبویي او لونګ دواړه لرو

## غزل

ښخوا چې ستا وه نن همغه وه زما په اوږو
ډېره درنه وه ښخدای تولـه وه زما په اوږو

پرون چې ستا سو د کور مخ ته جینکۍ ژړېدې
وو ایه ګرانې هلته بیا وه د چا ورا په اوږو

د جانان غمه خدای دې واخله زه دې د اسې ورک کړم
لکه لوګی چې پورته کېږي د هوا په اوږو

ښکاري چې ګل او بلبل بیا دي خفه شوي سره
د ازغي ښې ښکارېدلې د بورا په اوږو

ګوره واعضه د اسې نده چې تنها به درومي
زه به هم رب لره ورځمه د ثنا په اږو

منم چې تا ته به دې هم احساس مجنون یادوي
مجنون به خیال کې و سر ایښي د لیلا په اوږو

له تانه هېره شوه که یاده دې ده سره لوپټه
ها ! چې روشن به سموله کله ستا په اوږو





## غزل

زما هم بد ایسي اشنا نور به دې نه یادوم
نور به دې نه درځم تر خوا نور به دې نه یادوم
تور او پېغور خوراته نشته اموخته یمه پرې
ستا خو عادت دی له ښخوا نور به دې نه یادوم
نن د بابا مزار ته ځمه ښکې سوال کومه
تعویز کومه په ملا نور به دې نه یادوم
توره تیاره کې به له کوره ځم تیاره کې راځم
چې و دې نه ګورم ښکلا نور به دې نه یادوم
مادرته ویل چې د موسکا چل راته مه یادوه
زما په برخه ده ژړا نور به دې نه یادوم
تامې ځواني لکه د شمعې راته وسېزله
خو ما همېش کړله رڼا نور به دې نه یادوم
ستا په اداکه د روشن عمر دوه چنده کېږي
ښه ده چې مړ شمه سبا نور به دې نه یادوم

## اوښکه

شين اسمان کې وريځ کېدم ليدم دې نه
سپين باران وم وربدم ليدم دې نه
خوږ نسيم ومه د زلفو دې مېلمه وم
په رخسار دې لګېدم ليدم دې نه
تا حيران راته کتل لار کې ولاړ وې
زه دې ځنګ کې تېرېدم ليدم دې نه
لکه اوښکه چې له سترګې نه شي بېله
خلاص ګرېوان ته دې لوېدم ليدم دې نه
څه شپې وې د بېلتون تنها شوې تېرې
شپه او ورځ به ژړېدم ليدم دې نه
ستا په مينه کې اخر انجام مې مرګ شو
مقبره کې خښېدم ليدم دې نه
اى روشنه ته په ښود نه يې ښه نه يې !
تل دې ځنګ کې ويدېدم ليدم دې نه





## سلګۍ

زما وجود دى لکه مړى د بل چا په اوږو
لېونۍ ! ستا احسان مې وړى دى زما په اوږو

د تصور په نيلي تل کوم لټون د ښکلو
لکه اوبو راوړى زه يم د هوا په اوږو

د ميخانې په هوډله کور ځم خونه يم خبر
خماره ! تل دې کړولى د دنيا په اوږو

په زړه مې اوس هم ستا د سور سالو ياد ونه شته دي
هغه چې باد دى رپوله کله ستا په اوږو

ستا محبت کې محرکه د هرغلم منمه
ستا محبت کې مې سر وړى د بلا په اوږو

روشنه تا چې کله هم غرور په ماکړى دى
ما همېشه دى زړه تش کړى د ژړا په اوږو

## سپین رخسار

باران وه او سیلۍ وه اوړلۍ وه یار یې نه وه
وه ناسته انتظار کې یو جینۍ وه یار یې نه وه

څه یې نه ویلې چاته د بوت پشان وه ناسته
وه ښکلې، سپین رخساره شین خالۍ وه یار یې نه وه

زه هم راغلم او غلی یې ترڅنګ ورته دېره شوم
بې هوشه وه مدهوشه، لیونۍ وه یار یې نه وه

له ډېره هیجانه یې رنګ تک ژېړ وه الوتی
وه ډېره ترهېدلې سره هوسۍ وه یار یې نه وه

زما خو په نظر هلته څه رانغله تیاره وه
(روښنه) وایي هلته خوبلۍ وه یار یې نه وه





## ترماښامه

ستوري نه وي خو بیا هم اسمان ته ګورم
کړم وړې وړې سلګۍ خپل ځان ته ګورم

له سهاره ترماښامه پکې ورک یم
مخ دهریوه ښایسته انسان ته ګورم

ترهغې سپوږمۍ ته ګورم چې پنا شي
لټوم دې لوی واړه کهکشان ګورم

په دې هیله چې یو ورځ به داسې راشي
ستا په سترګو کې به ټول جهان ته ګورم

له سپین غره تر پامیره یو افغان دی
خوروښنه ستا په سر لغمان ته ګورم

## غزل

پوه یــــې کـــړه چـــې نه مزاحمت کوي
نن خـــودې بانه مــــزاحمت کـــوي

ګرانې زلفــــــان وچ کړه هوا یـــخه ده
ډېرچې وي لامـــده مـــــزاحمت کوي
یو ورځ چې دې یادلــــــه قصده نکړمه
ټوله شپه مــــې زړه مزاحـــــمت کوي
ماخویې بدهـــم په ښــــــومنلي دي
دوی نوبـــــیاپه څه مــــزاحمت کـــوي
تاســــره چې وخت مجلــــس ته نلرم
کورکې مېلـــمانه مــــزاحمت کوي
ښکــــــته که له تورو شـــکایت کوي
بره نوبیاســــره مــــــزاحمت کـــوي
کــــله کـــــله ســــترګې رانه اړوي
کله کله ښـــه مــــزاحمت کــــوي

ویې ویل په ناز روشنه خیـــــال دې هم
سم لکه داته مـــــــزاحـــمت کوي





## کلي نه وځم

نـــوره ونه شـــولــه بــس نور کلـــي نه وځمه زه
زړګیه بـــــس دی د پېغـــــور کلـــــي نه وځمه زه

دلته ویـــــــرونه دي غمــــونه ،ماتمونه اوري
اُف خدایه !داځـــــه دي د شـــور کلي نه وځمه زه

ای ! دوفـــا ځـــواب همـــېش دې په جفـا راکړی
خـــوښ په زخمـــونو د ټـــکور کلـــي نه وځمه زه

د چـــا په فـــکرکـــې قـــبرونـــو ته پنــــاه یو سمه
د چـــا فـــکرونوکـــې د ګـــور کلـــي نه وځمه زه

بس مبارک دې شه روشـــــنه دامحل دې ستاوي
زه درنـــه لاړمـــه د کـــــور کلي نه وځـــــمه زه

## ګودر

دفاع کوي خولکه سپرغونډې یې زغرو خوړه

دغو شین سترګو خودې نړۍ بشر وخوړه

خوندور کوي ازار ول دبې ګناه مخلوقات

پرون زما نن یې د استاد زړګي سر وخوړه

دوطن کونډه ژاړي ،چانه مې ځوی وغواړمه

توره شپه راغله اوله مانه یې سحر وخوړه

یو کلیواله شین خالۍ په ساندو سر ده وايي

چانا پېژاندویې د شپې ورنه دلبر وخوړه

زما سپین غر ژاړي له اوښکو یې رود ونه روان

سلګو کې وايي جوج ماجوج یې تور غر وخوړه

زموږ د کلي پېغلې ټولې مروري ښکاري

وايي چې کوم ښامار یې حسن د ګودر وخوړه





## غزل

تنهانه وم خو تنها وم چې ته نه وې
ستا په در کې بېنوا وم چې ته نه وې

پښېمانه شوم روان تر لې وره نه
نابلد کلي کې ستا وم چې ته نه وې

خیال دې راغی د ډیوې سیوري ته تم شو
زه پتنګ سوی په تا وم چې ته نه وې

ګرېوان ځیرې ستا د چم په لوري لاړم
لېونی وم د بېدیا وم چې ته نه وې

ما سفر د ژوند له کومه وپیل کړی ؟
ناخبر له انتها وم چې ته نه وې

ما ګونګۍ روژه منلې ده روښنه
بس په لوړه اموخته وم چې ته نه وې

## د غزل توري

توري د غزل شه او غزل ته ځه راځه
مينه راکوه راته محل ته ځه راځه

نن به دې په مينه الوول زلفې په شمار کړم
غېږې ته راپرېوځه بغل ته ځه راځه

راشه دا غيار په وارندې وخانده موسکۍ شه
مرګ باندې يې وګوابنه اجل ته ځه راځه

ستا د سرو لبانو مئ ته تږى يم خماريمه
سترګو کې رانغاړه مې کجل ته ځه راځه

نن دې په ښايست کې ښاپېرې د کاف کړې ماتې
حسن دې لمبې کوي مشعل ته ځه راځه

يا سپينه کوتره شه پرواز وکړه را والوزه
کلي نه بهر کله ځنګل ته ځه راځه





## مونږ چې واړه وو

مونږ چې واړه وو مور به مونږه ته کيسې کولې
په پسته ژبه يې خوږې لنډې اوږدې کولې
هغې به مونږ ته سندلۍ په تنور جوړه کړله
په هر ماښام به يې څلور دوه اويادرې کولې
هغې به مونږه ته پېريان هم يادول کيسه کې
زمونږ پوستکي به زيږه شول زړه لړزې کولې

××××

مونږ چې واړه ولو بيزې موځړولې هروخت
خپلو منځو کې موخپړې لګولې هروخت
چې به خفه شو بيامو ويل تاسره کچې يمه
يو شپېه پس به مويوځاى سره خندلې هروخت
مونږه به ګرم په مستۍ شومال به ورک شو رانه
بيزې شيطانې وې فصلونو ته به تللې هروخت

××××

مونږ چې واره وو د هقانانو به کنځلو مدام
مونږ به پښې ېيلي ورنه هر خوا تښتېدلو مدام
د هغوی شنه غنم او شنه جوار به بیزو وخوړل
بیا یې کانال پورې از غوکې ځغلولو مدام
ځینې وخت پلار ته به یې وکړ شکایت زمونږه
پلار به هم ومنله د ېر به یې وهلو مدام

××××

مونږ چې واره وو پلار به ویل تاسو به کار نه کوئ
لاړشئ ښوونځي ته لدې کاره به انکار نه کوئ
مونږ به حیران وو چې وی خدایه ! ښوونځی به څه وي؟
مور به ویل ولې په تللو کې تلوار نه کوئ؟
ما به کوچنې وروړ ته کتل هغه به ما ته خندل
انې به ویل چاسره شخړې به په لار نه کوئ

××××

مونږ چې واره وو تل په غاړه مو لیندۍ پرتې وې
د هریوه جیب کې به ښې د برې ګیټکۍ پرتې وې
په سرو غرمو به ګرځېدو په شنو غنمو باندې
مونږ به راپورته کړې چې ځالو کې هګۍ پرتې وې





چتکو ،ژېړ کو به په ځمکه تیند کونه وهل
څه به شوې ورکې ،څه به مړې څه به ژوندۍ پرتې وې

××××

مونږ چې واره وو دریم شرط به د پاچامو مانه
ټول به راټول شو داد ستور به په هرچامو مانه
پټ پټوانی به موکړه بروغالې کولې
باچا به غل شو بیا وزیر به یې باچامو مانه
د کلي کوز سرکې به ټول وړکي راجمع شولو
په لوړه تنده خبرنه وو تربېګاه مو مانه

××××

مونږ چې واره همېشه مو یو نظر کړی دی
مونږه همېش د علم مټ باندې وزر کړی دی
مونږ به د ټوکو سنګرونه جوړول هېوادکې
مونږه هروخت د ښمن ته خپله سینه سپر کړی دی
یو به احمد شو بل خوشحال او بل میرویس هوتکي
مونږه همېش د حق نعره الله اکبر کړی دی

## غزل

تېره به د هجر شپه نو څنګه شي
مړې فکر وکړه دا به څنګه شي

دا مې څوروي چې مې دښمن سره
تېره چې بې خیاله مې له څنګه شي

بنده دروازه چې په درز خلاصه کړي
غلې غلې ګرځي یو ځل دنګه شي

ملک دې د پښتو نادانې خیال کوه
کلي کې به غوا د رقیب لنګه شي

پوهه به د زړونو په ازار شې خو
هله چې ځواني دې ړنګه بنګه شي





## غزل

چې دې راوکتل په څنګ نوبلا خوندېږي وکړ
سترګې مې واوښتې په جنګ نوبلا خوندېږي وکړ

بیا ټوله ورځ مې ښکلي نه کتل په مینه موړ وم
چې ګرځېدم ورنه په څنګ نوبلا خوندېږي وکړ

زه ستاد حسن او ښکلا نڅې ته ټول ورغلم
چې مې زړګی شوپکې تنګ نوبلا خوندېږي وکړ

خمار خمار وم خوخولګۍ دې راته مات کړ خمار
نشه یې زیاته وه تربنګ نوبلا خوندېږي وکړ

چې یې له ملا درته لاس تا وکړ لو روشنه اشنا
یاره چې ژېړ دې شو لو رنګ نوبلا خوندېږي وکړ

## غزل

چې مې تېرشولو نیم ژوند په زولنو کې
خود راځي به ځنکدن په زولنو کې

په سپېځلي پاک قران به درته وکړم
ستا په مینه کې ثوګند په زولنو کې

خیر که تا مې په زړګي داغونه کړي
ورته غواړمه پیوند په زولنو کې

د خدای روی وکړه رقیب سره رانشي
بیا کوي په ما ریشخند په زولنو کې

چې د سترګو له مورچلو روشن ولې
نو به څه وکړي اوربند په زولنو کې





## د شعر کلی

زه د شعر په کلي کې اوسېږمه
زړه دیوه ښکلي کې اوسېږمه
ډېرځله یوچازړه ته یم غوښتی خو
څنګ د نابللي کې اوسېږمه
دا خود ګلفام اشنا مکېز دی چې
سوچ د نازولي کې اوسېږمه
کله شم سکون کې څنګه یې وګورم
دې غم سرخوړلي کې اوسېږمه
مړکه شي زیارت به پرې ودان کړمه
بیا به یې په څلي کې اوسېږمه
مینه راکوي راته همېش په ما نازونه کړي
دا کلی د ښکلو دی دې کلي کې اوسېږمه
ته خو اجازه وکړه روشنه د زړګي د کور
خیر که نړېدلی نړېدلي کې اوسېږمه

## غزل

خوښ به دې شم ګوره بد رنګ نه یمه
یو یمه بس یو په څورنګ نه یمه

نه کوي هېڅ باک چې در ته نه ښکارم
تا نه خو محبوبې په څنګ نه یمه

ته لکه د سروې لوړ قامت لرې
زه لکه رېډ ییمه دنګ نه یمه

سوله یم مصلح یمه صالحیمه
ومې نیسه زړه پورې جنګ نه یمه

غاړه کې مې بند کړه د سرو هاریمه
وګوره د اوسپنې زنګ نه یمه

اوس مې پېغلې نه ساتې په لیچو کې
ځکه چې د شنو بنګړو شرنګ نه یمه





## غزل

د رنځور زړه دې علاج و خو اوس نه یم
ګلې زه دې د سرتاج وم خو اوس نه یم

ستا راکړي قسمونه بېرته واخله
دغندل ځوانۍ دې راج وم خو اوس نه یم

چې همېش به دې بدل کې ورکولم
زه د هغه ژوند خِراج وم خو اوس نه یم

چې په زړه کې دې ځای شوې ناروغي وم
مرض هغه لا علاج وم خو اوس نه یم

تا روشن به چې مرحم مرحم بللم
د پیوند پیوند زړه کاج وم خو اوس نه یم

## کاروان صیب ته !

پوره هغه ارما شوله مودو چې مې په زړه وو
راخپل مې هغه لعل کړ چې دلوی ښامار په خوله وو

ما ډېرې هسې وکړلې چې ژر یې راولجه کړم
نصیب راسره نه وو او قسمت راته ویده وو

هېڅکله برابر نشوم پر هغه ځای چې دی وو
زه گوښی وم په دې چې یو دی نه وو نور هر څه وو

چادو مره هم ونه ویل چې څله پسې ژاړې
عجیبه شانتې خلک وو عجیبه شان یې کړه وو

ولا چې ډېر نږدې وه خوځه وکړم ای یارانو
ثاروان یې زه روښن وم خو کاروان راسره نه وو





## غزل

راشي زړه مې رانه غلا کړي بېرته درومي
مابې وزله په ژړا کړي بېرته درومي
دماهرو غلو پشان تیاره کې راشي
تلوراتلو کې راته شاکړ بېرته درومي
خدای خبر چې داله کومې رانازل شي
دزړه کور مې په درزا کړي بېرته درومي
په سروشونډو مې شډله خوله راکېدي
مړه زما هره ادا کړي بېرته درومي
زموږسپي یې ځان سره اموخته کړي
ظالم نه ورته غپا کړي بېرته درومي
دغه څوک دی او دکومې قبیلې دي
چې خندا مې په ژړا کړي بېرته درومي
نه پوهېږمه چې څه وایي روښنه !
خوخبرې لکه ستا کړي بېرته درومي

## غزل

دبلبلو شورماشور کې مې مېلمه شه
راشه یاره دزړه کور کې مې مېلمه شه

پښتانه یو مېلمنوته خوشحالېږو
دحجرې په ټنګ ټکور کې مې مېلمه شه

بې له تانه تش کالبوت یمه صنمه
ملایکه شه په ګورکې مې مېلمه شه

زماسترګې ستاد سترګو کوربنې شوې
وایې راشه اوپه تور کې مې مېلمه شه

هروخت سر یې په نېشوکې په خود نه یې
نن خوښه شه نن په سور کې مې مېلمه شه





## موري !

ته مې امید ته مې ارمان مورې
ته مې په سرلکه اسمان مورې
ماته دې ټول عمر خوښي راکړې
زمادښکلي ژوند داستان مورې
ستاله دې ښکلي نوم نه ځارشمه
ته خدای ستایلې په هرشان مورې
دې لوړ مقام ته هرڅوک نه رسېږي
ته محبوبه دپاک سبحان مورې
مورجانې ستاپه سرسوګند یادوم
چې راته ګرانه یې له ځان مورې
داسمان څړوځړوورېځوکې ته
درحمتونویوباران مورې
خدای دې زماله سره مه کموه
یې برکت ددرست جهان مورې
چې ددعاقحتي دې راغله په چا
ګټلی نشي هېڅ میدان مورې
مورجانې نن ورته ښې زیاتې وکړه
(روشن)مشکورستاداحسان مورې

## غزل

ستادیادو له زوره خوب راځنې کډه کړې
راشه نګاره مینتوب راځنې کډه کړې
چې دمیاعلي صیب ددربار تعویذ مې غاړه کې وو
ډاډه راځه اوس لېونتوب راځنې کډه کړې
هغه خبره چې مې ټوله ورځ ژړل وربانديې
اوس خوشحالېږم ساده توب راځنې کډه کړې
چې به ګودر کې مې شوخۍ نه منګوټې ماتول
اوس په کور ناسته پېغلتوب راځنې کډه کړې
وایي همزولو ته روشن رانه خولګۍ غوښتې وه
نن ورکومه یې شومتوب راځنې کډه کړې





## غزل

منم ته ځان وژلی شې ارمان وژنې
مینه پښولاندې کولی شې جانان وژنې

دخلاقیت وزرې هم شې ماتوی په لاسو
ته زوروره یې ته زور لرې انسان وژنې

خوګوره !ځان زما د مینې قاتل مه جوړوه
دا زما حق دی دا سې ولې یې اسان وژنې

دځان وژنې خو قران کې جواز ندی شوی
نو بیا په څه خاطر شاخونه دایمان وژنې

دقوم په منځ کې به په سل نومونو یاده شې ته
سپینه لمنه باندې تورداغ په څه شان وژنې

بیا به روشن ته څه ځواب وایې په ورځ دمحشر
د زړګي سره دا چې دلته دې وجدان وژنې

## سرې سترګې

دا چې ولې مې نن سترګې دومره سرې دي
راښکارېږي ژړېدلې مې اسرې دي

یا مالیار مې د زړګي باغ کې خفه دی
اوښکې ځکه د ګلاب پر مخ پرتې دي

نن ساقي هم شراب نلري خمار دی
تشې تورې میخانه کې یې پیالې دي

د جومات ملا مو نن ساقي ته وایي
پر ماګرانې له هرڅه نه میکدې دي

نن دې شمېرې له دوستانو او ملګرو
د دې چم نجونې روشنه څومره ښې دي





## غزل

دا چې چپه مې له کلي خپله لار کړي
د همغې شم زړګی ځانته مې یار کړي
په سپوږمۍ مخ یې د شنو ستورو خالونه
څه په مینه مینه بیا په ګل ګذار کړي
دې ناترسې زمانې ده بیا اړ کړې
چې په سرو نازکو شونډو بیا ازار کړي
د سحر شبنم پرې اووه رنګه ځلېږي
بختور به اوس د دغه مخ دیدار کړي
که د مینې په خوږو کې پرې وریېښ شي
نو به ګل ګل ځواني ټوله درنه ځار کړي

## غزل

د چا په سترګو مې یو چا ته ستړي مشي ورکړه
منئ کنه نن مې بلا ته ستړي مشي ورکړه

هغه چې ما ته یې پېغور کولو تل د مینې
نن مې هماغې بېوفا ته ستړي مشي ورکړه

زړه مې ویل چې ورنه تېر شمه خو سترګې خندېشوې
ټولو نه غلې مې یو خوا ته ستړي مشي ورکړه

هغه د بېګانه و د زړه د نیا مې ورانه کړله
خو زه پښتون یم ما د نیا ته ستړي مشي ورکړه

له مودو پس مې د اسې مخې ته ځرګنده شوله
لکه ادم چې بیا هوا ته ستړي مشي ورکړه

له خوشحالۍ نه لمر نړۍ ته غاړې غاړې وته
روشنه تا چې یې ځلا ته ستړي مشي ورکړه





## انتظار

ختم انتظار کړه راپه غاړه شه
جوړ د رځنې هار کړه راپه غاړه شه
وه دې وایي هر څوک چې هر څه وایي
اورته یې ګذار کړه راپه غاړه شه
دادا سارت ژوندون به ختم کړو
مینه کې اظهار کړه راپه غاړه شه
اوس خو ګلورین مخ نه دې سور سالو
اپلو ته وار کړه راپه غاړه شه
مه و بربړه چانه څوک به څه وکړي
عشق کې مې په دار کړه راپه غاړه شه
زه (روشن )خو یمه یو ساده مئین
ته خو ځان هوښیار کړه راپه غاړه شه

## شمع

توره شـــپه شمع نرۍ نرۍ بلـــــېږي
سترګې ژاړي سپينې اوښکې مې څڅېږي

هغې سپـــــينې جامې دې له ځانه تاوې
په نرۍ ژبه لماســـره غـــرېـــږي

فکـــر يوړمه دپـــورې غـــره رڼاته
چې دګټومنـــځ کې ځان ســـره نڅېږي

کله ځيرشـــــمه دهسک په لور چې ګورم
لوی واړه ستوري ســـپوږمۍ نه راټولېږي

کله وينم ســـــتاتصوير مې وي په مخ کې
کله ګورم سپېـــــره ځمکه راښکارېږي

يو ځل غږ شـــي رفيع څه کـــړې لېونيه؟
اوس خيالـــــونه دې په ماپورې خندېږي





## غزل

راشه چې بيـــخي يوازې شـــوي يم
ورکه جدايي يواځـــې شـــوي يم
ته خو راته وايې چـــې ســـبا درځم
مړې سمد ســـتي يواځـــې شوی يم
تاچې مازيـــګر خـــدای پامان وويل
بياترســـبايي يواځـــې شوی يم
داځل دمودو هجـــران له قصـــده هم
نکړم جـــــدايي يـــواځې شوی يم
دومره راته ګران يـــې ديـــار غمه چې
وړم دي په زړګـــي يواځـــې شوی يم
ويې ويل روشـــــن ته ســـلام هم وايه
اوکلـــــه به راځـــي يواځې شوی يم

## غزل

راشه واخله دا زړګی مې پکار ندی
یاره داسې لېونی مې پکار ندی

هر ساعت دې رانه غواړی راته ژاړي
دا ماشوم دا ګلالی مې پکار ندی

چې ساقه له څانګې بېله کړي سهار کې
خزان ښه داسې سپرلی مې پکار ندی

نری لوړه پوزه هسې راته سېزي
واخله مېخکی مې پکار ندی

پر ښېړده مړه چې له غېږې نه دې پاسم
سپین سهار شولو ناستی مې پکار ندی

لرې نده یوه ورځ به داسې وایې
روشن ووژنئ ژوندی مې پکار ندی





## غزل

راشي او زما ترڅنګه وژاړي
ښکلې ده خو دابد رنګه وژاړي

شي به پرې عادت ترڅو به ویر کوي
څو پورې به دا له جنګه وژاړي

ستالېمو زما او ښکې لیدلې دي
نن خو به اشنا له ننګه وژاړي

مادبم راکټ اواز راوینښ نکړي
هغه د بربښنا له کړنګه وژاړي

ډکه د دیدن ځولۍ روشن به کړي
بیا که په سحرا ملنګه وژاړي

## غزل

راغله مخامخ راته په سر ټکه را پرېوته
مخکې په شمشاد اوس په خيبر ټکه را پرېوته

ولې شمالونه سندريزې نغمې نکړي اوس
مات شولو چينار که په نښتر ټکه را پرېوته

خدای خبر د کومې کونډې کړي ازار ووهل
تېره ورځ ملا نن په عسکر ټکه را پرېوته

څه شول د وطن له مينې ډک زړونه چې نشته اوس
لاندې په مسجد پاس په سنګر ټکه را پرېوته

پېغلې اوس منګي سره ټوپک غاړو کې ګرځوي
بچ نشو بې وزله په ګودر ټکه را پرېوته

شرط مو د ديدن يوه لمرينه ورځ ټاکلې وه
مړ به شي روشنه که په لمر ټکه را پرېوته





## غزل

رسم رواجونه رانه پاتې دي
غاړه کې لاسونه رانه پاتې دي

راشه نازولې اوس يې وګوره
دښته کې پلونه رانه پاتې دي

بس دی نور مې وس د کتو نشته دی
سترګو کې ستونه رانه پاتې دي

هغه بې حسي او بې مجاله تګ
مينه کې دردونه رانه پاتې دي

ښه نه يم روشنه! څنګه درشمه
اوس دې ديدنونه رانه پاتې دي

## خپلې خور ته

زما په خویندو کې اغلې خورې
نن دې دورور دا یو سلام ومنه
یو څو خبرې مې په غور واوره
پکې د مینې یو پیغام ومنه
خورکۍ په زده کړو دې خپل ځان سمبال کړه
دا له دښمن نه انتقام ومنه
ځان کړه ملاله د میوند اتله
نوم دې ځلاند په ټول جهان ومنه
منمه ګرانې چې به سخته وي دا
خو مشقت دې پخپل ځان ومنه
یو وخت به ټول ستا احترام وکوي
دا افتخار د هر افغان ومنه
ته وې کوچنۍ خو ما ناهید ګڼلې
ولا په خدای چې په ایمان ومنه
ساجدې څانګې څانګه به شې
ته د هېواد د ګلستان ومنه





## د عبدالقادر خټک د شعر په اقتفاء

ښایسته دې په ایمان دې تورې سترګې
راته ګرانې لکه ځان دي تورې سترګې

لکه باز، لکه شاهین، لکه عقاب دي
د جانان مې فانوسان دي تورې سترګې

چې رانجه، کجل پرې پورې نکړې ګوره
قدرتي ستا په دې شان دي تورې سترګې

د ساقي پیالې به لرې کړې ګوزارې
شرابونه دي ساقیان دي تورې سترګې

د روشن نظر یې ځانه سره یوړو
لکه لعل د بدخشان دي تورې سترګې

## غزل

هسې له ازل سره لوبېږمه
ځکه دې اوربل سره لوبېږمه

زه ورته غړېږم دا خندا کوي
خدایه څه پاگل سره لوبېږمه

ډک دی له مکیزه څومره ښکلی دی
سم د گلاب گل سره لوبېږمه

ووایۍ هوښیار او که نادان یمه
مینه کې اجل سره لوبېږمه

یو به مې سېلاب شي د رڼو او ښکو
سترگو کې کجل سره لوبېږمه

ستړی په مزل شوم ستا ښایست پسې
نور د ژوند منزل سره لوبېږمه

دې ویل روښن به راته شعر وایي
ما ویل چې غزل سره لوبېږمه





## غزل

مینه نده چې په وینه حاصلېږي
احمقان دي چې دې کار ته خوشحالېږي
زمري ندي چې ښکار خپله حاصل نکړي
ټپوسان دي په مردارو نه مړېږي
چې د سرو وینو سېلاب په سترگو ویني
ورونه ندي چې یې مړي ته نڅېږي
چې یې سر په گټه ،زیان چېرې خلاص نشي
زامن ندي چې یې میندې ترې ژړېږي
هغه عشق،هغه مینه،ها ښکلا ده
چې له زړه نه وي او زړه کې پاتې کېږي
چې رسوا په ټول عالم شې رنگ یې ورک کړه
په دې مینه باندې اور دې پورې کېږي
ستا په مینه خو روښنه ټول خبر دي
د څراغ لاندې نو ولې تیاره کېږي؟

## دنړۍ فلسفه

فلسفه ددې جهان ده ډېره ارته

په مکان او لامکان ده ډېره ارته

په عمرو عمرو مزل که پکې وشي

داله ځمکې او اسمان ده ډېره ارته

د مزل او منزل پای یې معلوم ندی

له نظره د چشمان ده ډېره ارته

په نالوستي ځان به جوړ لوی سقرات شي

مفکوره هم د انسان ده ډېره ارته

چې زرغون کړي سره گلونه په خړ ډاگ کې

ها سینه د سپین باران ده ډېره ارته

لوی واړه ځوان او سپین ږیري ځانته بولي

حوصله د قبرستان ده ډېره ارته

چې په زړه دهر انسان کې یې ځای کړی

وسوسه د سپک شیطان ده ډېره ارته





چې جانان پورې ټول عمر کې رسېږي

فاصله ددې میدان ده ډېره ارته

چې دې سترگو کې شي سترې ترمې او ښکې

لار له سترگو تر گرېوان ده ډېره ارته

چې اعدام ته برابر یې خوږ اشناکړ

دا رسۍ د تور زلفان ده ډېره ارته

میکده چې یې کړه ټوله درنه هېره

ای ! نشه د سره لبان ده ډېره ارته

چې یوه شپه د یار غېږه کې سبا شي

بیا لحظه د هجران ده ډېره ارته

چې په غوږ کې گوته کېږدي او ناري کړي

انگازه د یا قربان ده ډېره ارته

## غزل

که وفا وکړو نو بس خپله وفا غم شي راته
نن مو محفل کي وي همدغه سبا غم شي راته

بس دي نور خال په زنه نه ږدم رانجه نه کومه
ښکلي ورکېږي نه چې ډېره ښکلا غم شي راته

تياره کې ښه يم غم دې ځي غم دې را درومي راته
پېلوځی نه لګوم بيا به رڼا غم شي راته

چې په نازک مخ دې د مخ لګول وغوارمه
لشې لشې اوږده بانه دې ليلا غم شې راته

دوصل شپه خو په باران کې قدرتي خوند کوي
په شرق دې ولګي درزا د برېښنا غم شي راته





## غزل

لاړې د ستورو له مداره خو مانه ليدې
بس ژړېدمه تر سهاره خو ماونه ليدې

په ترمو اوښکو مې ګلونه د بالښت اوبه کړل
په شرک باران ولو نګاره خو ما ونه ليدې

نن مې په غټو سترګو څه بلا وجال خور کړی
څنګ ته مې ناست ولې قراره خو مانه ليدې

لکه د شعمې تار مې خپله تنه وسېزله
تا ته پتنګ شومه دلداره خو ما ونه ليدې

روشنه وايه کنه چېرته پټېدې به رانه
لاړم له کلي نه تر ښاره خو ما ونه ليدې

## دمینې قلنګ

ملنــــګ دې شوم په میــــنه کې قلنګ خوراته راکړه
دچرسو تازه بوټی یـــې لګ بنــــــګ خوراته راکړه

دامه وایه چـــــې نه دې پېـــــژنمه هـــله درومه
زخمي مې په ښو کړه ســــترګو جنګ خــوراته راکړه

ســـتا څنګ کې اوســـېدلی یم ګلابه ځکه سوریم
که خوښ دې نه یم ژرکـــــوه بل رنګ خوراته راکړه

اوس نکـــوي اثرپه مادهېـــځ واعـــظ خـــبرې
رباب مې کړه دغـــبرګې دې یو ترنـــګ خوراته راکړه

له ځانه مې بېل نکړې ماروشن درســـــره مل کړه
بنګړی دسپین مړوند مې کړه یو شرنګ خوراته راکړه





## نظم

ته دلویې کورنۍ اوزه بې کوره
ستادي اوه ورونه زلمي اوزه بې وروره
ته بنګله کې کوې ژوند اوزه خېمه کې
تاسره زما سیالي نه کېږي ګوره
ته دبرق پشانتې سپینه یې پړقېږې
زه تک توریم په نېستۍ کې سوی سکوره
ته های سي ،ایرکنډیشن ته ارام خوب کړې
اړخ په اړخ اوړم دسرې ګرمۍ له زوره
ته سرې کړې پلوونه خورې غرمه کې
ماته نه رسي یو وخت ډوډۍ هم سپوره
دمړې خبټې فارسي وایې شیرینې
څه خبره یې زماد زړه له شوره
ستادمینې احترام کوم ګل ځانګې
خوقسم دی چې وبرېږم له پېغوره
زه روشن دې منندوی یم له باوره
زماهره شپه په ژوند ده لکه ګوره

غزل

چې له مانه کله تللې سپین سحـــــروه

ښه مې یاد شي ای جانانه چـــې اختــــروه

ستا په سترګو کې داوښکـــو ووږنـــدونه

غم جوړ کړی ځانته کور ستا پر ځیــــګروه

زموږ کوراوښوونځي ووټول رنګ شـــوي

دجومات مو هـــم نه وروه نه ممبـــروه

وه پرمونږه سره بــــلا نازله شــــــوې

هم مو مال او هم مو سـرترې په خطـــــروه

خو پښتون چاسره بد کـولـــی نشــــي

نوبیـــا ولــې ددې هرڅه څه اثـــــروه

هغه وخت مې هم په یاد شي ای (روشنــه)

ستاسوکـلی چې وه کوز اوزمـــونږ بـروه

## غزل

لکه وږمه وږمه وږمه سحر وختي ولګي
دا سې مې ځنګ باندې هغه سحر وختي ولګي
په دې محشر کې به نو څنګه یو لحظه پاتې شي
بس په کوترو چې بابنه سحر وختي ولګي
مړه له ټولو نه خو درد دژمي دغې کې وي
کله چې کاڼي باندې پښه سحر وختي ولګي
زه کړې شپه ورته په ناسته باندې تېره کړمه
هله را ورسي چې ښه سحر وختي ولګي
له دید نو سره خو مل وي دا هر څه جانانه
خواږه خواږه وي خو تر اخه سحر وختي ولګي





## نظم

ما او رېدلي و چې مینه د هر چا کار نده
ما یو ځای لوستي و چې مینه قرباني غواړي
خو په دې پوه نه وم چې ولې د هر چا کار نده
او په دې پوه نه وم چې څنګه قرباني غواړي
ګرانې پرون ما ښام دفون پر کرښه
ستا نازولي نازولي ویل
زما ښه یاد دي رانه هېر به نشي
لکه طوطي او د ښارو خبرې
ستا وږمه وره خوشبوداره خندا
ستا د عجیبې اصطلاح کارول
له مانه هېر کړل چې راز پټ وساتم
ګرانې د خدای په نوم سوګند یادوم
پوه شوی نه یم چې مې تا ته ویل
او س هلته نه یمه او س دلته یمه
خو ستا بېدربغه دې پوهښتنې وینښ کړم
اې ! تا را ته څنګه په ترسناکه اواز
وویل هیله کړم تکرار یې وکړې
ددې مقصد څه دی چې دلته نه یې؟
ما ویل نه هسې هېڅ خبره نشته

خو تا په خدای باندې قسم راکړلو
چې درته وو ایمه چېرته یم اوس
مانه غوښتل چې تا ته وو ایمه
چې اوس له تانه په په سلګونو کیلو متره لرې
یونا بلده ښار کې
یونا پېژانده ځای کې ځانته اوسم
اې ! د نازونو بدرۍ ولې چپ شوې
ستا د رڼو سترګو اسمان کې وريځ شوه
ستا له لېمونه تود باران وربېده
اې ! ستا نرۍ نرۍ نرۍ ژړلو
او ستا په غټو غټو څو سلګيو
زما سلګۍ هم راغلې وژړېدم
اخر مجبور شوم چې هرڅه پرېږدمه
او بېرته ستا دخاموشۍ ښار ته راکډه شومه
اې !ستالپاره خوما ښار پرېښی و بېرته راغلم
خو تازمالپاره ولې دنيا پرېښوده او بيا نه راځې
پخدای چې ستاهغه يوه خبره
مې مخامخ سترګو ته ودرېدله
چې درته هر وخت مړه کېدلی شمه
خو ګوره خيال کوه دا سوال ونکړې





چې به قيامت پورې تنها پاتې شې
او دادی اوس خو نو تنها پاتې شوم
خو ما هېڅکله دا سوال ندی کړی
زه دې له ځانه لرې نه غواړمه
راشه دخدای لپاره بېرته راشه

## مورې

نن دې بیا ژړلي بیا دې سترګې سرې دي
بیا دې اوښکې څڅېدلي چې دې پرښې په لېمې دي

دا د کوم ظالم له لاسه داد چا د وحشت زور دی؟
چې پړونی په سر نه او د پښو ګوتې دې پرې دي

پښتنې مورې پښتو ته دې لوګی شم
پر هر حال کوې شکرونه تل دې لوړې حوصلې دي

دادې واورې چې به ښاد نشي په ژوند کې
چا چې ستا د امیدونو ډیوې مړې دي

په تاڅه شوي چې غورځې، پرځې هر ځای
بیا مورکۍ درته په څه کړې خبرې دي





## غزل

هسې په غوصه شي چې مې خوښه شي
سمه سره لمبه شی چې مې خوښه شي

نور و ته د وصل لمحې هم شماري
ماته پښتنه شي چې مې خوښه شي

دا به وي عمرونه پېغلتوب به وي
سمد ستي کوژده شي چې مې خوښه شي

نه عبادت پېژني نه لمونځ کوي
بې وخته روژه شي چې مې خوښه شي

یاره زما هم دی عجیبه قسمت
ترور کره مېلمه شي چې مې خوښه شي

مه کوه پېغور روښن ته وا به وري
دلته به یې شپه شي چې مې خوښه شي

## غزل

راشه چې تحفه کې درته زړه درکړم
زه درته ټول ځان درکړم هرڅه درکړم

ته خومې دمینې نه خوند واخله نن
ډېربه زه په مینه کې خواږه درکړم

سترګې ښایستې دې په نظرنشي
راشه چې لوګې ته یې بانه درکړم

بیا کابلۍ پېغلې راته وویل
واخله چې لبان درته تک سره درکړم

دغه دښار نجونې څومره شوخې دي
ښه دې چورتالان کې بیاوۍ څه درکړم

مینه خوجنس ندی پېرل کېږي نه
تاته به دمینې قیمت څه درکړم

نن یې ویل روشنه پر تازېری کړم
زه به هم دزړه بدل کې زړه درکړم





## غزل

زه لا وکړوکی یم په ځان پوره پوه شوی نه یم
په خپله ګټه او توان پوره پوه شوی نه یم

زما ملګرو مکتب خلاص کړ پوهنځی وایي اوس
زه په حساب جمع میزان پوره پوه شوی نه یم

د نورو خلکو سره او شنه ګلان ښکاره شول باغ کې
زما باغ نه شولو ودان پوره پوی شوی نه یم

چې د وطن د ګېډې خپله اپرېشن وکړمه
سپینه چپنه کړم په ځان پوره پوه شوی نه یم

وایي ((روشن)) په یو آواز د تکبیر غږ پورته کړئ
جوړوو نن افغانستان پوره پوه شوی نه یم

## غزل

خدایه څنګه له غمونو ډکه دنیا ده
له دردو او کړاوو ډکه دنیا ده

هرڅوک ګورم د خپل ځان په غم کې ګې ځي
نکړي خیال د خرت په لوريې شاده

موږ دې څنګه بنده ګان یو پیدا کړي
پخپل منځ کې لاس ګرېوان تل مو غوغا ده

ټیپ راډیو سي ډي ویډیو سره یې شوق ده
ترنا وخته پورې ناست په سینما ده

د جومات لخوا نه ډېر په تلوار تېرشي
وایي لمونځ شورانه هېر خو اوس قضا ده

د ((روشن)) قلم یې نور نشي لیکلای
ځانته نکړي نصیحت دا یې سزا ده





## شاعرانه خبرې

نن دې په سترګو یو غزل جوړوم

په اننګو به دې کیسه ولیکم

مګر په شونډو دې څه نه وایمه

زلفې دې هم له فلسفو ډکې دي

په صراحي غاړه دې نه غربېږم

والله چې سرترپایه مینه یې ته

خو کله ځانسره بل فکر کوم

راځه په ټول ځان دې کتاب ولیکم

## غزل

نن يې په فکر وران کورونه دافغان ورېږي
ځان ترېنه هېروي چې په زړه دچاجانان ورېږي

دغه له سترګو چې څڅېږي ګورئ اوښکې ندي
دامرغلرې دي چې نن په سپين ميدان ورېږي

داهسې ندي دزړګي په سرزخمونه لري
له دې زخمو څخه دوينو سم باران ورېږي

سکون يې نشته دی هېڅکله ارام نه پېژني
سرې سرې سکروټې دباروتو په هرځوان ورېږي

چاسره وبه کړي خندا نن پښتنې مېرمنې
دلته خوغږ دژړاګانو له اسمان ورېږي

څوک به تغيرکړي دازموږه دتقديرفيصله
چې په وطن ګلان نه بلکې بمان ورېږي

کله به جوړموشي وطن خدايه داسوال کومه
خدايه پوره کړې دروشن په زړه ارمان ورېږي





## شوخ تصوير

اى !تصوير دې څومره شوخ دی په کتلوکې شوخي کړي

چې ويده شم تخنوي مې په خوبونوکې شوخي کړي

ستاوخيال ته زه حيران يم دبوراخويونه کاندي

دلته نه راځي سحراته په ګلونوکې شوخي کړي

ځوروي مې کړوي مې زليلتوب نه مې خونداخلي

مخه نه راکوي ماته ديدنونوکې شوخي کړي

ټوله ورځ ورپسې ګرځمه مزل باندې بې هوش شم
شاپرک غوندې ناځوان دی ماښامونوکې شوخي کړي

اى روشنه !هلته ګوره پياله بامه اشارې کړي
ددې چم جنکۍ مستې په کورونوکې شوخي کړي

## غزل

مینه ډېره ښه وي انتظار سره خوندنکوي
ژوند چې ملنګي وي اقتدار سره خوندنکوي

څومره چې مطرب درباب ټنګه ځني خونداخلي
هغسې بیا ګوره له سېتار سره خوندنه کوي

څنګ کې چې له یار سره وي یارخوندونه هغه وي
داسې بیا ملګرو له اغیار سره خوندنه کوي

خیرکه یې زخمي کړمه ازغی دی پروانکوي
زخم دازغي پشان چینار سره خوندنه کوي

څومره چې له یار سره دزړه خواله په مینه شي
خیاله کوه جانانه له اغیار سره خوندنه کوي

جوړبه کړو هارونه دنارنج سپینوګلونونه
بې هارونوغاړې ننګرهار سره خوندنه کوي

تاویل (روشن) په څه پوهېږي چېرته یې مه بوځی
پرې یې ږدی په کلي کې له ښارسره خوندنه کوي





نوربه دې هېڅ تصویرته ونه ګورم
نور دې ګلان غاړه کې نه اچوم
بیابه دې خوب کې هم ونه وینمه
نن دې له فکر سره غاړې وتم
هغه لماځني ډېرڅه وغوښتل
خوماورنکړل ماویل یو یې نسي
غوښتل یې ستایادونه غلاکړي رانه
زه انکاري شوم زه یې نه ورکوم
بیابه زه چاسره خبرې کوم
خیال قووت یې رانه غلاکړلاړه
هغه شمال سره همغاړی لاړه
چې شوروان ویل یې داخو واوره
زه دې یادونه دښایسته جانان یم
نور مې نوزړه باندې سوزش ولګېد
نور مې نولاس نه وینې وڅڅېدې
ګورم په لاس کې مې ګیلاس مات شوی
چې اخواکړس شو تصویر دې پرېوت دی
زماپه مخه کې خندل یې راته
زمادلاس وینې یې خوښې کړلي
زمایې هېڅ عیادت ونکړلو
نور به دې هېڅ تصویر ته ونه ګورم

## غزل

راځه چې ځوترې زه اوته نورپکې نه ځايېږو

پوهېږي دوی په مينه څه نورپکې نه ځايېږو

تاويل ددوی په وچوشونډوبه خندا راولو

ژړاکړي خوښه مسکانه نورپکې نه ځايېږو

که ترسهاره ورته کښېنو سترګې پټې نکړو

نه وايي دوی راباندې ښه نورپکې نه ځايېږو

مادرته ويل چې ملاپرې مه تړه وفانلري

چېرته کېدای شي لکه ته نورپکې نه ځايېږو

که مودتن غوښې پرې وخوروڅه فايده نکوي

ښکلي په دې پوهېږي څه نورپکې نه ځايېږو

موږبې دپوندې اغزی تل دی په ښوو بستلی

موږته يې داغ ايښی په زړه نورپکې نه ځايېږو

نن کوي پرېکړه چې (روشن) به له دې کلي وځي

کووپه دې مالت کې څه نورپکې نه ځايېږو





## دمورسلګۍ

زما دمور هره سلګۍ زمانه نه هېرېږي

زما کوچنۍ خور لېونۍ زمانه نه هېرېږي

چې له نازکو ګوتويې باد يوړه دمور لمنه

هادطوفان دشپې سيلۍ زمانه نه هېرېږي

دمجبورۍ شپې بلاوې خودا هم يوه وه

زموږ اوږده شانتې شړۍ زمانه نه هېرېږي

په دغه ډاګ کې چې يې اوس دمړو کلی بولو

هرمازيګرربړکۍ زمانه نه هېرېږي

تاچې په زور راځنې يوړله مرګيه مړشې

زمادزړه دکور جلۍ زمانه نه هېرېږي

سږکال که ژوند وي نوا يلبند په ايلبند ګرځم پسې

هغه پلونډه سره کوچۍ زمانه نه هېرېږي

روشنه اوس هم ستادخولې نښه په مخ ګرځوم

تاچې ويل دغه کوکۍ زمانه نه هېرېږي

## هغه زه وم

هغه زه وم چې مې شپه ویښه سبا کړه
هغه ته وې چې ماښام سره ویده شوې

هغه زه وم چې مې بار ستا د احسان وړه
هغه ته وې چې گلاب سره کږه شوې

هغه زه وم چې تر اوسه درته ښام یم
هغه ته وې چې په گل کې هم پخښنه شوې

هغه زه وم چې له شاتو درته خوږ شوم
هغه ته وې چې له زهرو نه ترخه شوې

هغه زه وم چې مې تا ته ژوند ژوند کړی
هغه ته وې چې له ما سره خفه شوې





## غزل

هغه ساده هغه نادان خدای خبر چېرته به وي
بیا مې زړگی بیا مې جانان خدای خبر چېرته به وي

لکه بچي د مرغوځالې نه هوا وکړي
داسې مې کور دی په میدان خدای خبر چېرته به وي

د چاملنګ خبرو مې کور د مینې لولپه کړ
سوځمه اورکې د هجران خدای خبر چېرته به وي

پېغور کوي راته رقیب اوس وايي څه شو یار دې؟
زما د زلفو بند دیوان خدای خبر چېرته به وي

مړه روښنه تا چې چا باندې حساب کولو
هغه پاگل ها بې ایمان خدای خبر چېرته به وي

## غزل

زمونږ د کلی خان ملا سره جنګ حق بولي
اوس په مسجد کې له الله سره جنګ حق بولي

هغه خپل ځان د امریکا د در غلام ګڼلی
نو امریکا خوله دنیا سره جنګ حق بولي

اوس می ضمیر دی راویښ شوی تېروېستی مې نشې
کافر جانانه اوس له تا سره جنګ حق بولي

منم رقیب دی له دې نوم سره پخوا اشنا وم
دالیونی همېش لما سره جنګ حق بولي

پښتون روشن مې د پښتون جانان په دین مین دی
جانان ته غېږ ورکړي بلا سره جنګ حق بولي





## غزل

نن ورې لیلا راته خندلي دي
اه ټولې دنیا راته خندلي دي
ما به چې ورو کتل غوصه به وه
نن خویې پخلا راته خندلي دي
هغه چې پرون به رانه لرې تله
نن هغې ترخوا راته خندلي دي
زه خویې حیران ښکلي رخسار ته یم
زلفویې په ملا راته خندلي دي
ای ګوډره هر وخت به دې ستایمه
ستا غېږکې لیلا راته خندلي دي
ستا زړه کې منګی چې یې غوپه کړلو
ستا شور اوهار راته خندلي دي
وایي چې به نوره زه خفه نشم
دا چې شیخه تا راته خندلي دي
یو ورځ چې منګی ترې لارې کې پرېوته
هلته یې بیابیا راته خندلي دي
زه (روشن) پدې باندې امیر شومه
دا چې ګُلې تا راته خندلي دي

## غزل

زه به دې هېر کړمه خو مانه به تېرېږې څنګه
جانانه وایه له ایمانه به تېرېږې څنګه

دنازولي یتیم اوښکه یې چې پرې نه وځې
څنګه به وځې له ګرېوانه به تېرېږې څنګه

د مسلمان زړګي مهراب کې رام رام څله کوې
ته او خدای وایه له اذانه به تېرېږې څنګه

منم په ژوند به د وجدان زندان نه هم وتښتې
اخر دقبر له زندانه به تېرېږې څنګه

د پېښور لالیه بیړه مه کړه تم شه دلته
کابل ته د رومې خو لغمان نه به تېرېږې څنګه

هغه چې اوس له اسمانونو نه هم پورته ګرځي
روشنه وایه له اسمانه به تېرېږې څنګه





## غزل

ستا جفا زما وفا ته به رنګ راوړي
ولا نن اویا سبا ته به رنګ راوړي

زما ترمې اوښکې شي ګرېوان کې جمع
ستا د سروشونډو موسکا ته به رنګ راوړي

د حسین د جل وهلې وینې زور به
لویې د ښتې کربلا ته به رنګ راوړي

ماشوم هم د مور په بطن کې په تنګ شي
دغمونو دې دنیا ته به رنګ راوړي

ستا روشن به ستا له مینې څه خوند واخلي
چې وفا کړي بې وفا ته به رنګ راوړي

## کرکټ ته

بیا یې لیې پورته کړي بیا یې اوښکې په لېمو دي
افغاني میندې ژړېږي باري رب ته په زارو دي

دڅ بورنډ له کرښې پورې یاغي شوې هوسۍ غواړي
دافغان زمریو ښکار کړي په دې هیله او ارزو دي

بیا چې توراو سورزرغون بیرغ کړي پورته
پښتانه کړي غور ځنګونه له خوښۍ نه په سلګو دي
بیا دهسک په لوري ګوري بیا سجده کوي په ځمکه
بیا یې زړوکي ولولې دي بیالامده تول په ښولو دي

بیا یې هم سوبه نصیب کړې خدایه ته یې مددګار شې
ستا په نوم کوي پیلونه ستا په رحم یې بروسې دي





## مورجانې !

بیادې اوښکو ولې وکولې لارې
بیاله څه خبره شوې یې چې ژاړې

ستا په سترګو کې زه اوښکې لیدای نشم
شم قربان دې له خولګۍ چې ماپرې غواړې

خیر دی مورې دارضاد پاک سبحان ده
چې بې شمېره ککرۍ په ارمان لاړې

## غزل

شپه او ورځ کړم دعاګانې چې ته راشې
هر تورتم وي رڼاګانې چې ته راشې
شپه او ورځ خوب او خنداراځنې هېر دي
کړو به ډېرې خنداګانې چې ته راشې
انتظار کې شپه سبا کړمه جانانه
راخورې وي رڼاګانې چې ته راشې
یا په وخت راځه یا هېڅ کله رانشې
کړوي مې سوداګانې چې ته راشې
وي په ټول کلي د مرګ خپسه غلې
وي کمزورې ژړاګانې چې ته راشې
بس له وېرې مې پردې دزړه شي څیرې
شي مې هېرې اداګانې چې ته راشې
څه خو یو نده جانانه چې به خلاص شي
دسوچودې بېړۍګانې چې ته راشې
ستا په شتون کې مو روشنه فایده نشته
وي نازلې بلاګانې چې ته راشې





## غزل

نن مې ملګرې شه ارمانه یو احسان خو وکه
په ما انسان دې له احسانه یو احسان خو وکه

یو څه زما په ژړېدلو سترګو رحم وکړه
راوړه دیدن دزړه په للمه مې باران خو وکه

خیر دی که درد مې دزړګي احساسولی نشې
زړه ته دې خوږ نفر په یاد کړه څه ارمان خو وکه

دا یې عادت وي رقیبان همېش د وه زړونه وژني
په ما یو غږ هسې ناڅاپه د جانان خو وکه

نن دزړګیو قافلې سره روشن هم درومې
راځه څاروان یې شه دوستي د دې کاروان خو وکه

## غزل

مینه سرکې څه اسانه غوندې ښکاري
رسول یې سرته ګرانه غوندې ښکاري

د دې غزل په لیکه

رښتیا داسې ده که ورانه راته ښکاري
جدایي دې ډېره ګرانه راته ښکاري
لټوم دې که دې ستوروکې پیدا کړم
د سپوږمۍ په شپه اسانه راته ښکاري
داپه دې چې ځمکه ټوله مې چاڼ کړې
زړه غمجن له کهکشانه راته ښکاري
چې دوریځې زړه څیري او مخکې درومي
دا سپوږمۍ هم سرګردانه راته ښکاري
منزل لایتنهاهي شو ستا دمینې
چې له ځمکې تراسمانه راته ښکاري
ها انجام د محبت پیغمبري دی
له مکان ترلامکانه راته ښکاري
ستادزړه دنیاګۍ هم څه عجیبه ده
په روشن باندې ودانه راته ښکاري





دکندهار دپنجوایي د پېښې شهیدانو ته
ګناه مې څه ده چې نشان دې ګرځولی

## یمه

ځواني مې وژني په ارمان دې ګرځولی یمه
ناځوانه تا خو نښه ونه نیوه ډز دې وکړ
دنیم بسمل مارغه پشان دې ګرځولی یمه
اخر په تا خو به هم مور ترلی سروي کنه
نوولې زه نن په دې شان دې ګرځولی یمه
دخپل بدن دوینو ډنډ کې سرغوپې وهمه
بشر دښمنه بې درمان دې ګرځولی یمه
راکړی خدای چې راته ژوند دی ته یې ولې اخلې
دژوند کړی نه په ایمان دې ګرځولی یمه
زه یو بې وزلی او بې څو که ناتوانه یمه
ته یې ناترسه په توان دې ګرځولی یمه
که ټوپک نلرم په لاس کې لوړ کتاب لرمه
جاهل انسانه په قران دې ګرځولی یمه
زما د سوي زړه په اه کې به لمبه شي
په سرو سکروټو د هجران دې ګرځولی یمه





خاورې ایرې به شې لعینه د شیطان بچیه
ته شوې سپین چرګ او زه شیطان دې ګرځولی یمه
د دې معصوم ماشوم په شان دې مورکۍ بوره شي ستا
نشته خوښې په شور فغان دې ګرځولی یمه
ښکلې فضا ده هرې خوا ګلان غوټۍ سپړوي
وخت د بهار دی په خزان دې ګرځولی یمه
الهي ربه کندهارۍ مېرمنې سوال کړې درته
وایي الله! څه په طوفان دې ګرځولی یمه
خاونده خدایه! دې عزاب نه خو موو ژغوره نور
خیر که افغان، افغان، افغان دې ګرځولی یمه

## غزل

د کوزکلي که دبردی چې دا څوک دی
ګوري هره خوا اوتر دی چې دا څوک دی

په رښتیا ورځني لار ده ورکه شوې
او که ماته یې نظر دی چې دا څوک دی

تېزې سترګې یې د باز پشان کتل کا
څه عجیبه شان بشر دی چې دا څوک دی

ګورئ لاړ نشي چې زړه مې وسره دی
غل د زړونو او ځیګر دی چې دا څوک دی

څوک یې څنګ ته هم نژدې کېدلی نشي
سم تېره لکه خنجر دی چې دا څوک دی

ته خو یو ځل ورته وګوره روښانه
د سهار ځلانده لمر دی چې دا څوک دی





## غزل

ژور خیال کې ستا د مینې دریاب یووړم
نا توانه وم چې لمر کې سراب یووړم

شوم هلال غوندې دا ستا مینه کې تاو
وس مې نه وه چې د مني افتاب یووړم

ستا له سترګو سره سترګو کې په جنګ شوم
شوم پرهر پرهر د وینو خوناب یووړم

ستا نازک رخسار نه خوند په اخستو کې
وم نشه نشه د شونډو شراب یووړم

لاس دې ملا ځنې راتاو کړمه پرمخ دې خوله راشي
شوم بې حاله په سپین مخ دې سېلاب یووړم

## غزل

خاموشه ناسته وي چې ځمه وايي صبر وکړه
وايمه ځمه زه نور ځمه وايي صبر وکړه

په اننګوي تورمابنام دتورپېکي جوړ کړي
نوره ځلېږي لکه شمعه وايي صبر وکړه

ورنه مې وپوښتل پرون لېونۍ شپه څنګه وه
دېروم خفه چې درنه تلمه وايي صبر وکړه

بنده غوښتل چې له خولګۍ يې څوخبرې واوري
والله چې ډېر هوسېدمه وايي صبر وکړه

دومره يې وويل چې ولې دې کتل راته نه
ماويل زه هم شرمېدمه وايي صبر وکړه

دژوندنړۍ ته مې نږدې څنګه راتلې روښنه !
دزړه په کوردې اوسېدمه وايي صبر وکړه





## ته ښايسته افغانستان يې

شپه مې ښه وي ګرانه
ستايادونه مېلمانه کړم
ستاخيالونه راسره وي
ستاحجره جومات کې ګرځم
محرابونه راسره وي
پوښتي مانه زماذهن
راته وايي چې داڅوک دی
زړه مې غواړي په دې پوه شي
چې ته څوک يې
ته تلاش کې دچاسر يې؟
ته خوران وېجاړکورګۍ يې
اياته داسې نه غواړې؟
چې دېره شې شيش محل کې
ګردچاپېر دې وي ښونه
ته ايسار شې جزيروکې
ابشارونه پروازوکړي

لمده هوا يې راشي
ستا پرځنګو ټالۍ وکړي
له خندا نه ورته شين شي
له سيلانو سره سيال شي
ستا د غرو خړې لمنې
وي ژېړ سپين رنګين برقونه
ته وا ستورې احتجاج کې
ټول په ځمکه راخواره دي
رڼا ګانې راخورې وي
وي پېلوځې ټول دښتونه
ايانه غواړې چې وکړي
الوتل سپينې کوترې
ټولې چيغې کړي چې واخلۍ
سوله ،سوله ،سوله ،سوله
خو ګلاب ګلاب جانانه
زه دورځې کړلی نه شم
چې تصوير د ښکلي مخ دې
ننداره کړم
زه د خپل زړه په هنداره
ستا د ښکلي مخ ترسيم خو





ستا د ستوري مخ خالونه
په رڼا شمېرلی نشم
زه د خپل زړه په هنداره
ستا انځور وښتلی نشم
رانه هېردي چې ووځنګه
هرچا اوس ترې خپله برخه
بېله کړې په غاښونو
چادې سترګې، چادې مخ نه
خپله برخه بوتې وړې
مامې خپله برخه نکړه
پيدا نه شوه چې وه چېرې
ته ويلی شې چې څه شوه؟
نه وي تل زما قسمت هم
چې مېلمه کړم ستا ژور خيال
خو مننه تا نه ډېره
چې ته نه غواړې تا هېر کړم
خو زه هم ګرم نه يم ګرانه
اوس خيالونه مې تقسيم دي
يو ته نه يې چې دې ياد کړم
اوس په دغه غم خانه کې

ډېرغمونه مېلمانه دي
اوس په دې کور کې جانانه
ډېرزيات اوړي راوړي ، ګرځي
زه يم يو سوچونه ډېردي
ارزښتونه وېشل شوي
دوه هم ندي سره يوراز
اوس دې کورکې ډېرکورګي دي
اوس په دې کې ډېروګړي
لوی واړه ځوانان اوپېغلې
هريوغواړي چې وي مشر
کشرهم له چاکم نه دی
ته چې فکرخراب نکړې
زه په هرڅه له تاتېريم
ولې ته زماهرڅه يې
ته مې زړه ته مې لېمه يې
ته پرماله حده ګران يې
ته ښايسته افغانستان يې
ته ښآيسته افغانستان يې





## دمورپيغام

دشپې ترډېره پورې ويښ پاته شوم
خوپه علت باندې يې نه پوهېدم
يوه دسوچ لويه ښېـــــړۍ راغلـلـه
دلته زماترڅنګه مېشتــه شـوله
په جنګ وخوب اوزماسترګې سره
له ډېروخت وروسته پرې غالب شولـــوخوب
زماله سترګويې جګړه يووړله
خو !
خوبس داخوب نن داسې بل قسم وه
نن له پخوانه مکمل بدل وه
زه يې يوداسې ځای ته يوړلمه
چې مې څوک نه پېژندل
هلته مې وليدې بې ساري ښهرې
خوبس هېڅا زماپه لور نه کتل
ځانته مې يوځلې په قهرشومه
چې ولې ټول راځنې لرې به تلل؟
هلته وه تورشپه اوتوره کلا
پکې راګيرزه دبلاپشان وم

يو وخت و ډېر بېدريغه ووېرېدم
په کټ کې پورته شوم او ولګېدم
چې شوم بيدار ډېر وار خطا وم زه
ګورم مورجانه مې کوزه په لاس کې
راته ولاړه ده او ما ښوروي
بچيه !
بچيه ! پاڅه د لمانځه وخت شوی
ما هم سستۍ ته زياتې وخت ورنکړ
ويل مې ښه دی چې دا خوب وخوته
د دواړو لاسو په ورغوو باندې
مې دواړه سترګې سره ومښلې
خوب ته مې ځان ځنې رخصت واخسته
کوزه يې راکړله په لاس کې راته
نور د بمبې په لوري وخوځېدم
اودس مې وکړ چې راوګرځېدم
مورجانه ناسته جای نماز بآندې وه
اوږدې تسبې يې په لاسونو کې وې
د تسبېحاتو زمزمې يې کړلې
شوله را پورته راته وه يې ويل
راشه په دې ځای کې دې لمونځ اداکړه





نن مې دا يو پيغام په غور واوره !
دلته به هر سهار لمونځونه کوې
خوېندې او وروڼه به دې ټول پاڅوې
پرې به لمونځونه کوې
په دې کوچنيانو سبقونه وايه
بيا يې ښوونځي ته هم په وخت ورلېږه
نن مې د مور خبرې بل شان ته وې
نن يې څهره کې هم تغير ښکارېده
اوس يې په ښکلي نوراني رخسار کې
زما د شپې د خوب تعبير ښکارېده
ما ورته ويل مورجانې دا څه وايې؟
نن دې خبرې عجيبه غوندې دي
هغې زما خبره پرې کړه ويل يې
زويه په دې ژوند باور ندی پکار
په دې نړۍ کې دغه ټول مخلوقات
وي مېلمانه ديو څو ورځو دلته
مورجانې !
مورجانې ! هيله کوم غلې شه نور
دا سې خبرې راته څه له کوې؟
زما په مينه کې کمی مه راوړه

زما دزړه دیوال به نه نړوې
هغې امېل کړل دواړه لاسه راته
خپلې سینې سره یې جوخت ونیوم
ګرانه زما خبرې هېرې نکړې
زه یو روښانه حقیقت وایمه
دمرګ په مخ کې ځوان او زوړ نشته دی
داپه ازل کې وي معلوم دهرچا
خوماته دلته خپل پلار رجان رایاد شو
مورجانې چېرې زما پلار نوکوم دی
اوښکو یې سترګو ځنې لارې وکړې
ځویه هغه ته دعاګانې وکړه
هغه خو اوس دی په رښتونې نړۍ
داحقیقت خوبدلولای نشو
ما ویل ژر شه زما پلار پیدا کړه
هغه چامړ کړلو ګناه یې څه وه؟
هغه اوس چېرې دی مزار یې کوم دی
په نرم لاس یې خوله رابنده کړله
دهغه کورخو په هرځای کې شته دی
هغه په ټول هېواد کې قبر لري
هغه شهید دی او سپېڅلی شهید
هغه په خپلو وینو تاته بچی
په دې هېواد کې ګلان وکرل او





ته یې مالیار کړلې ددې ګلونو
ای ګلالیه نازولیه زویه
مورته رخصت ورکړه نوروخت نلري
زما داخوارتندی یې ښکل کړ راته
مایې لاسونه هم په مینه ښکل کړل
راته دعاوې یې نن ډېرې وکړې
نور یې په جسم کې دامتره نه وه
چې نورڅه ووایي خوډېر یې غوښتل
یوځل پرځمکه رانسکوره شوله
نوره بېواکه شوله پرېوتله
دشهادت کلیمه یې وویله
حیران شوم څه پېښېږي
دخدای پامان زوی جانه
دخدای لپاره مورې
یوځل دې بیا دامبارک لاسونه
راکړه چې ښکل یې کړمه
اوس مې مورجانه زماڅنګ کې نشته ده
اوس زه یوائې یمه
دزړه دیوال مې پرېوت
اوس بې نوایمه زه

## اختره ! مه راځه

نوم دې ډېر خوږ دی خوزما په خوله ولاکه راځي
زه په ژوند تنګ یمه مرګی دې ډېر چالاکه راځي
مانه خفه نشې اختره چې مې داسې وویل
ای دوختونو مسافره چې مې داسې وویل
چې ماله مه راځه زه تاته ضرورت نلرم
په تانوڅه کوم چې قدر او عزت نلرم
چې مې پکار دی زما پلار دی هغه نلرمه
چې یې په سر مې یې اقتدار دی هغه نلرمه
چې پلارمې نه وي نو په چاڅه کوم
اختره مه راځه په تاڅه کوم
جامې مې نشته بوټان نلرم خولۍ مې نشته
دتن جامې مې هم شلېدلې دي تنۍ مې نشته
مورمې ناروغه ده دمرګ په تبه سره خوټېږي
ددردله زوره یې په سترګو کې اوبه خوټېږي
دوایې نشته ده یوه سپینه ګولۍ یې نشته
په څه یې واخلمه لماسره روپۍ یې نشته
اختره !هیله کړم دې چم ته چې راورسېدې
زمادپلار اودنیکه چم ته راورسېدې





زموږدکور کوڅې نه تېرشه موږته مه راګوره
زموږله فکر خیال نه هېرشه موږته مه راګوره
کنه کوچنۍ خوربه مې مورځنې بنګړي وغواړي
وایي اختر دی ترې به پاک نوي کالي وغواړي
هغه به سرته کمانک غواړي ګوتمې به غواړي
مونږه یې نلرو هغه رانه پیسې به غواړي
خومورمې هېڅ نلري څنګه به مې خورغلې کړي
دهغې غم ته به کړي ویر څوک به مې مورغلې کړي
هغه بیا ژاړي دومره ژاړي چې یې ژبه نیسي
هروخت یې تبه نیسي ،تبه نیسي ،تبه نیسي
زه هم کوچنی یم بیابه چېرې ګدایي کومه
دچاوجېب ته به په زړه کې خوشحالي کومه
خو !
خوستا په ورځو کې اختره سوال کول هم ګران وي
ستا په خوښیو کې یو چاته لاس نیول هم ګران وي
ښکلي رنګین سپین لباسونه وي دټولو په تن
ښکلي بوټونه وي خولۍ وي دهمزولو په تن
خوزمالاس باندې دتېرو خولو داغ ښکارېږي
زمادزړه په کور کې سوی لوی باغ ښکارېږي
ای ته پوهېږې راته ټول وایي چې لرې لاړشه

بې پلاره موره يې له دې ځايه ډېرې لرې لاړشه
ځه مردار خوره !چې جامې راته ناپاکې نکړې
بيا به يې هېڅ ډول صابون باندې راپاکې نکړې
اختره مه راځه له زړه نه مې څڅېږي وينې
اوښکې مې نشته دي له سترګو مې بهېږي وينې
خو تاته سوال کوم اختره زه يتيم ماشوم يم
دزړه په وينو کې مې سور په غم سهيم ماشوم يم
په مونږه رانشې په نورو دې اواز وکړه
زموږ کنډرونه دجاز پشان پرواز وکړه
پرېږده چې مورته مې سر کېکاږمه درد يې ښه شي
په خپل زړګي پورې يې ونيسمه درد يې ښه شي
موږ کره مه راځه مېلمه مونږه خو هېڅ نلرو
تاته به څه په مخ کې کېږدوولاهېڅ نلرو
يتيم ماشوم يمه په خلاصو ګروو سوال کړم درته
اختره مه راځه موږ مړه يو په اختر څه کوو ؟





## يتيم ماشوم

يتيم ماشوم يم چاته وبه ژاړم
نشته دی پلار مې چاته وبه خاندم
خلک خو خپله خپل بچيان لري
هغوی خواړه او ګلاليان لري
ښکلې جامې پاک لباسونه لري
توروي سترګې سره لاسونه لري
خوزه خېرن او ګرد وهلی يمه
يم بېر سر ګرېوان څېرلی يمه
يمه پښې يبله څپلۍ نلرمه
لمر سوځوي مې خولۍ نه لرمه
په لوږه ګرځمه هېڅ نه پوهېږم
په کومه لاړ شم چېرې ودرېږم
زما مور جانه خو هم کونډه مور ده
ګرځي په شپه او ورځ په منډه مورده
چې يو ګوله ډوډۍ پيدا کړي چېرې
مالتهوي چې مې پيدا کړي چېرې
ځوربږي وايي دی به وږوي نور
او به به نوي هم به تږی وي نور
هغه اوس ماته زما پلار جوړ شوی

زما امیر زما سالار جوړ شوی
خو پلار مې هېڅکله کېدلی نشي
د هغه شان ته رسېدلی نشي
پلار مې بزګر وه هغه یوې کړلې
هغه به خپلې خولې تویې کړلې
خو ما ته ویل به یې ای ښکلیه زویه
په سایکل سور شه نازولیه زویه
هله ژر لاړ شه د مکتب په لوري
ځان رسوه اوس د ادب په لوري
که چېرې لاړ نه شوې خسته به شمه
له تا نه ټول عمر خفه به شمه
ستا سره ګلونه او به وه مه زویه
چې غم ونکړې زه خو یمه زویه
چې زه ژوندی یم هېڅ پروا ونکړې
پام کوه وېره هم له چا ونکړې
ته به ډاکټر شې بیا به لوی سړی شې
ته به هېواد کې دې یو پوی سړی شې
زما زخمي زړه ته علاج به جوړ شې
د قوم لپاره د سرتاج به جوړ شې
د نورو خلکو هم پکار شه ګوره





ته لکه پول په لویه لار شه ګوره
ته به له هېچا سره شخړې نکړې
هم به کنځا هم به خپړې نکړې
همېش له خلکو سره مینه کوه
خبره هر یوه ته سپینه کوه
وګوره زه د استا پشان ماشومان
ښکلې غوټۍ د بڼ ګلان ماشومان
دا تاسو ټول ګوره ښایسته ګلان یئ
تاسو سبا د دې هېواد ځوانان یئ
دغه چې اوسي ټول مشران دي د استا
دغه هم ترونه ماماګان دي د استا
د دوی به ټولو احترام کوې ته
په هر یوه به ښېل ښېل پام کوې
خو زه لا نه وم ډاکټر نه معلم
عقل مې نه وه لا پوره او سالم
چې یوه ورځ چارا ته وویلې
زما په زړه یې پولۍ وکړلې
ویل یې لاړې دریه در شولې ته
زخمې زخمي د زړه په سر شولې ته
ته اوس یتیم شوې ته نور پلار نلرې

ته شوې بې سره څوک دلار نلرې
زه يو څو ورځې پرېشانه ومه
دا سې کم نه ښه پرېمانه ومه
ځکه محروم شومه د پلار له سيوري
شومه بې برخې د سالار له سيوري
خو بيا خفه په يوې خبرې نه وم
نژدې ، نژدې وم له چالرې نه وم
پلار به ويل ته به يوا ځې نه شې
تنها به هېچېرې ته پاتې نه شې
خو زه خفه يمه ترې ډېر خفه يم
ډېر سترې شوی يم تيکه تيکه يم
ولې هغه ماته دروغ ويلي
ګوډ او مات نه بس ښه يې روغ ويلي
د هغه هېڅ خبره سمه ده
ځکه مې سترګه اوس بې نمه نده
کنه نو وګورئ چې دروغ دي کنه
په زور او زبر په شره روغ دي کنه
هغه خو ويل چې دا دې ترونه دي ټول
څه خوريونه څه ورېرونه دي ټول
خوپلاره ! اوس مې تره تانه پېژني





له مانه لېرې ځي مانه پېژني
تا چې ويل ستا عزتونه کوي
له مانه ټول اوس نفرتونه کوي
ماته يتيم وايي بې پلاره وايي
بې سرپرسته او بې څاره وايي
زه اوس مکتب نه وايم سوال کومه
وګوره پلاره ! څه کمال کومه
زه خو يتيم شوم مور مې کونډه شوله
لېوروا وورېونه په څنډه شوله
ځکه هغه اوس په پردو کورو کې
په سرو ګرميو په تودو اورو کې
زړې جامې او لباسونه وينځي
پردی، پښې پردې لاسونه وينځي
نو زه خو کله هم رالوی نه شومه
په ښو او بدو پوره پوی نه شومه
ګرېوان مې څېرې دی صدف نلري
زما داوران فکر هدف نلري
دا سې څوک نشته چې مې ځان ته يوسي
د مينې ښکلې يو جهان ته يوسي
چې مې ريښې ريښې ګرېوان وتړي

روان دا وښکو مې باران وترې
زما همزولي وايي هلو وېلکم
خوزه پخپله پښتو نه پوهېږم
يو وخت وه زه هم د همدوی پشانې
هره خبره باندې ښه پوهېدم
اوس زه يتيم يم سرپرست نلرم
د پلار په مينه مې زړه مست نلرم
ژړا مې تل وي مېلمنه د سترګو
وي سترغلي مې تل چپه د سترګو
زه او مور دواړه تل ژړا کوو
بس په ژړا مو امنا کوو





د يادونو څپه

ګرانې پرون ډېره راياده شولې
په ډېرو هڅو مې هم هېره نشوې
لکه د سپينې وريځې ته د تورو غرو لپاسه
د سحر ستړګې نه په وخت پورته شوې
اولکه باران ته د سپرلي د موسم
د زړه په للمه مې راووربدې
ستا وربدو سره په دې للمه کې
يو شين چمن ښکلی ګلزار وټوکېد
اوس نو دې سرو ګلو او شين چمن ته
د ښې پالنې يو ماليار پکار وه
زه وم په فکر چې تا پرېکړه وکړه
زه د ې ماليار د دې بوستان غوره کړم
خو ته پوهېږې ګرانې بيا څه وشول؟
زه شوم ناکام ستا انتخاب نا سم وه
ناکام پدې شوم چې ماليار نه ومه
زه خو فارغ ومه د عشق له ښوونځي
دې ته پکار وله زراعت نه فارغ
ما پوهنتون هم وه د مينې لوستی
خو تا سره له دومره لويې ماتې

ما ته یو بل د بریا چانس هم راکړ
بیا دې دزړه د کور تر ټولو لوی ور
کلیانې رکړې او راودې سپاره
خو داخل ما هم یو څوګنـد یاد کړلو
چې به عسکر شم د دې ښکلي کورګي
کله به هم دیو کوچني شکایت
موقع درنه کړمه خفه به نـشې
اوس مې په ځان باندې یو فرض ګڼلی
چې ستا د زړه د بڼ له ټولو ګلو
هغه سپین ګل چې ستـا تر ټولو خوښ دی
هغه لپاره به زراعـت ولولم
دا به په ټولو رنګارنګ ګلونو
کې یې پاچا کړمه دا ګل د نرګس
او ګرانې بله ژمنه هم کومه
چې به د تېرې ازموینې نمرې
درنه په داخل امتحان کې اخلم
او دامې هم دمخه خوب لیـدلی
چې به نـمرې هم سل په سلو ورمه
پارچه به هم له ځوابو ډکه وي
خو ته پوهېږې چې بیا تا څـه وکړل؟





تا مُمیز راته رقیب ته کلی
خو ته پوهېږې چې رقیب څه ویل؟
هغه پارچه نښه په سره قلم کړه
د لس پوښتنو واړه لس ځوابه
ما مکمل په تور قلم ولیکل
اوس مې نمرې هم سل په سلو باید
په شین قلم راته غټې غټې ولیکې
خو د دې سور قلم د نښې علت
له چانه وپوښتم چې پوه شمه پرې
اخر مې وویل ګناه مې څه ده
یو ناپېژاندی مې راغـوږ ته شولو
ویل یې تا په د ولسم ټولګي کې
په دولس ژبو دیار نوم اخـسته
تا به په دولس قلمونو باندې
په دولس رنګه دولس ځله لیکل
چې ای صنم زه به په ورځ د قیـامت
کې درې شاهده په څلور کې ضرب کړم
چې مساوي به تر ینه دولـس جوړ شي
هر یو به ستا د ښکلي مخ په مینه
ګواهي وو ایي چې حال مې څه دی

اوس هم که پوه نه یې نو خدای دې پوه کړه
داازموینه هم زما لخوا ده
ددې نمبرې به هم زه ورکوم
ته اوس په دې کې لیلا مه ګرموه
خو اوس ته ګوره چې تقدیر څه کوي
تقدیر هم ستادی زه تدبیر نلرم
دې امتحان کې هم زه پاته راغلم
د تیر په شان مې یو ځل بیا بایلوده
خو ستا باور په خپل باور څنګه دی؟
چې بریالی به وي که پاته به وي
خو ما د مینې په ځانګړي قانون
کې یو ماده داسې ترسترګو شوله
چې یو مئین ترڅو ناکام نشي
هغه بریا ته به هېڅ ونه رسي
وایي چې هره ماته مور د بري
نو د بري په خاطر ماته وخوره
زه هم مات شوی یم خو نه یې منم
زه یو اتل یمه په مینه کې ستا





## غزل

ځه په هرلوري ښکلامې درپسې شه
زه سپوږمۍ یمه رڼا مې درپسې شه

جفاګانو دې زړګی راته شین کړی
بې وفا شولې وفامې درپسې شه

زړه مې خوښ کړې ګني ای شوده جانانه !
زه دې څه کوم بلا مې درپسې شه

هسې مرګ لره مې ولې غاړې باسې
د حلیم رخسار ښکلامې درپسې شه

که سل ځله درته وایم لرې مځه
خو ته نه اورې وینامې درپسې شه

زه هم ځان ته یو څه وایم کمه نه یم
تندرونه یم بریښنامې درپسې شه

د سولې کوتره

ته د سرو ګلو غنچه یې
د سهار خوږه وږمه یې
ته څپه د اباسین یې
ابشارونو کې نعره یې
ته اهنګ ته ترنم یې
د ادب ښکلې توته یې
مسافره بل وطن کې
په هېواد پسې خفه یې
ته یې لښته د سروزرو
ته ډالۍ ته هدیه یې
ستا نازونه مینه ناک دي
ته عاشق ته معشوقه یې
ته کوتره یې د سولې
ته په مینه باندې مړه یې
ته یې باد د نسیم غېږ کې
د غزلو زمزمه یې
ته سیسۍ د خړو ګټو
ته هوسۍ د لوی راغه یې





ته یو لعل د بدخشان یې
ته عقیق ته پېروزه یې
ته یو پېغله کوچیانۍ یې
ته مېلمه په سردره یې
ته مئینه یې په علم
د معارف بله ډیوه یې
تورتمونه دې خوښ ندي
یوه ښکلې نظاره یې
ته پرده د موسیقیت یې
ته سېتارې ته نغمه یې
ته پیغام د محبت یې
ته د هریو زړه توته یې
ته په تورو زلفو زانګې
ته بلنده ستاره یې
هر افغان درباندې ویاړي
څکه ښکلې پښتنه یې

## غزل

ځنګه چې تا له ماښامونو سره زړه تړلی
داسې ما هم له سهارونو سره زړه تړلی

چې مې د ژوند په نیمایي برخه دو ولګوو
ماخو ټول ژوند له امیدونو سره زړه تړلی

چې د مسجد تر شاه تېرېږم او مندر ته ورځم
لکه هندو مې له خالونو سره زړه تړلی

هغه مې پیر هغه مرید هغه ایډیال ګڼمه
چا چې د مینې پیغامونو سره زړه تړلی

بیا د رباب نغمې ویدې دې سترګې خوب نه اخلي
تا یې مطربه له تارونو سره زړه تړلی

ستار سالت او وجیبه به ځورول وي زما
تا دیزید له خواصونو سره زړه تړلی

ته هغه ستایې چې دې نور وته له ورایه ښکاری
روشن ایروکې له لعلونو سره زړه تړلی





## غزل

نن یوه ارمان په مخه کړی یم
بیا د غم کاروان په مخه کړی یم

ته رقیبه یو نه یې دې ټول جهان
زه په بیابان په مخه کړی یم

سترګې درنه باسم که لاس بری شوم
خپل ځان ناتوان په مخه کړی یم

بیا به کوم سپرلي ته غاړه ورکړمه
خیر که اوس خزان په مخه کړی یم

غور ځوي مې لوړ، ژوراو کور په کور
دومره لوی طوفان په مخه کړی یم

جوړ شو ترې سېلاب پکې غرقېږمه
اوښکو د افغان په مخه کړی یم

ورځ شوه رانه ورکه رڼا نشته ده
داسې تور ماښام په مخه کړی یم

نوروله وصال ځنې خواند و اخسته
زه روشن هجران په مخه کړی یم

## غزل

قربان قربان شم ځار بلبل جانانه

زما دزړه دسر ګلابه زما ګل جانانه

سره اننګي دې هم ځلاکوي شبنم په شانتې

تېروبڼو دې کړ زخمي زما ګوګل جانانه

قدم په وروا خله په ورو څه چېرې پرې نه وځې

راپسې راشه په هرپل مې کېږده پل جانانه

که یې پناه راځنې برق کړهېڅ پروانکوي

پرمخ مې پرېوته اوربل دې ول په ول جانانه

راځه یو څه خودرته ولیکم چې ویې لولې

بس چې هرڅه وي ورته ووایه غزل جانانه

دتور لونګ پرځای روشن په سینه ګرځومه

ورباندې کړمه نن سیلونه دکابل جانانه





## غزل

بیاچاترې کوکۍ په زور اخستې ده

چاله دې جلکۍ په زور اخستې ده

بیایې دې سرې شونډې لکه سور انګار

یخ ترېنه خولګۍ په زور اخستې ده

سترګې یې دې ډکې خوشه نه وایي

ډار ترینه سلګۍ په زور اخستې ده

غاړه یې نیولې ده اوتره ده

غلوترېنه اوږۍ په زور اخستې ده

هغه سندرماره اوس خاموشه ده

مرګ ترېنه ټیکۍ په زور اخستې ده

ناسته له روشن سره تیاره کې ده

غره ترېنه سپوږمۍ په زور اخستې ده

## غزل

ستا له ستر گو نه حیا اوري چې گورې

له نازک زړه دې درزا اوري چې گورې

پښتنې دیوروپ میمې درنه ځار شه

اننگو نه دې ښکلا اوري چې گورې

ته یې شمع پروانې درنه ځاربږي

په خوبانو دې رڼا اوري چې گورې

د شبنم پشان د گل پر مخ دې شپه وي

په څانگو نو دې ځلا اوري چې گورې

توره شپه کې د رباب پشان نغمې کړې

د روشن په زړه سبا اوري چې گورې





## غزل

سره لاسونه تور چشمان په مخه راغله
تېغ بانه او سره لبان په مخه راغله

اننگو یې د هنداري پر ځای کار کړ
پکې زه و مه روان په مخه راغله

وه اوږده لکه د سروې مې محبوبه
غونډه زنه سور پېزوان په مخه راغله

بوراگانو پسې دار یې گرځولو
وم په لاره د بوستان په مخه راغله

اوس به بې اجله مړ و مه روشنه
اوږدې زلفې ښاماران په مخه راغله

## بیا پسرلی شو

بیا پسرلی شو بیا ګلونو سپړېدل شروع کړه
بیا مې لیلا راته په سرو شونډو خندل شروع کړه
بیا د سپین غره لمنې شنې شوې په نښترو باندې
بیا مې وږمو په تورو څڼو کې زنګل شروع کړه
بیا هوا نرمه شوله بیا فصلونه وده کوي
بیا تور بلبل په شنو څانګو نو چغېدل شروع کړه
بیا بزګریوم راپورته کړی کرونده اړوي
بیا سترې شوی بیا دمه یې جوړول شروع کړه
بیا معشوقې ویل شیرینه له تاوګرځمه
بیا مې دوه سترګو ستا وسترګو ته کتل شروع کړه
بیا د شپونکي او د شپېلۍ اواز له غره راوځي
بیا د سندرو او نغمو یې غږول شروع کړه
بیا د پېغلو تېوډ له کلي نه روانه شوله
بیا د منګو یې په ګودر کتارول شروع کړه
بیا د تور غره هوسۍ په منډه تېزګامونه اخلي
بیا له سرشارو مست زمرویې پټېدل شروع کړه
بیا به روښنه لاس په غاړه کې درواچومه
بیا چې باران د پسرلیو وربدل شروع کړه





## موسقیت

ته به اهنګ او ترنم یې موسقیت به لرې
خو درباب په شانتې ښکلی ترنګ دې کړی ندی
هسې په خوله وایې چې مینه او وفا دې کړې
خو ګوره هېڅکله د ښکلو ننګ دې کړی ندی
سترګې دې تورې زلفې جوړې او سُرکې اننګي
خو د لیلا پشان پلو په څنګ دې کړی ندی
مغرورې پېغلې الماسک وو دا سمان په لمن
ستا سپینو متېوکې بنګړیو شرنګ دې کړی ندی
بوراوزر دې خپل څېرلی فریادونه کوې
بس د ګلاب په پاڼه وینو رنګ دې کړی ندی
پولادي عزم لرم څه د تېیم چاقو خونه یم
لامې پلنګه کوي پړق خوزنګ یې کړی ندی
منم چې تا به وي وهلې په هرځای ډغرې
خوله روښن سره د سترګو جنګ دې کړی ندی

## غزل

بېګاه نه وې ټوله شپه ومه تنها
له خيالو سره ويده ومه تنها

انتظار مې درته وکړ خو رانغلې
زړه مې ډک ولو خفه ومه تنها
په الوت کې مې وزر د فکر مات شو
نيم بسمل ومه زه مړه ومه تنها
دواړه سترګې مې وې وره پورې ګنډلې
لکه ناسته په مورچه ومه تنها

نور د فکر کور کې ځای درلره نشته
زه اول نه اموخته ومه تنها





## غزل

خير دی که نادانه ده پوهېږي نه
ما باندې خو ګرانه ده پوهېږي نه

زه يې رانږدې کړمه زړګي پورې
دا لرې روانه ده پوهېږي

غواړم يې ديدن ته اوس پلمې ډېرې
ما سره يې ورانه ده پوهېږي نه

وايي خولګۍ سپينه قېمتي لرم
سل لکه ارزانه ده پوهېږي نه

کړل که رياضت غواړي انجام يې اوس
وبه شي اسانه ده پوهېږي نه

ماتې شوې حيا نه پرې ښولې ځکه
دا جلۍ افغانه ده پوهېږي نه

خوښ يې په زلميو کې روښن کړمه
اوس پرې پښېمانه ده پوهېږي نه

## غزل

څه ستړې، څه بدرنګه ده څه ګرانه زنده ګي ده
زړګـيه دانو څه کړمه بې تـانه زنده ګي ده

سکون مې پکې نشـته فکرغـاړه رانه واخلي
دګل غونـدې جـانانه بې جانانـه زنده ګي ده

شينکي اسمان نه لاندې بوډۍ ټال جوړوي لمرکې
ای خدایه !دانو څومره سـرګردانـه زنده ګي ده

اوس ماته بېګاتاته سـبا بل ته غبـرګې ناڅي
وفا وفادې نکـوي ناځـوانه زنـده ګي ده

کتلی ورته نشـم په ليـدومې زړه وريتـېږي
له سترګو په رودوکې مـې روانـه زنده ګي ده

قسم سـل ځلې وکړي چـې هرومروبه درشم
مابنـام شـي خورانشي بې ايمانه زنده ګي ده





## نظم

يو څوک ده غواړی ماله ځانه سره وغږوي
څه رانه واوری څه راواوروي په دغه هنر
هيله يې داوي چې يې خپل حضور ته ومنه
ډېرکله داسې وی په خپل سرمې محل ته راشی
هغه چې راشي زما مخې ته نو ساه مې واخلي
بدن مې سست شي ساډوبي راباندې خوله لګوي
خبرې نشم ،کتی نشم، اورېدای يې نشم
فکرمې وتښتي حوس مې هم خنثی کړی راته
دا کړی خبرې زه دځمکې مخ شوکارې کړمه
مخ ته يې نه ګورم خوسيوري ته يې زړه ورکوم
تنفس هم دومره په ورو اخلم چې ستړی مې کړي
نوره چې تنګه شي اسمان ته اسوېلي ازاد کړی
لاس راته وغزوي ووايي:دخدای پامان

خوزه ترې لرې شمه لاس باندې مې دردولګی
نن يې په قهراو غوصه کې راته داسې وايي
روشنه ! سترګې دې خداى وباسه چې نه مې ګورى
ژبه دې ګونګه شه چې آهم راته نکوې پرې
په رښتيا کونړ شې چې په دروغو بهانې لټوې
خوهغه اوس هم لا په دغه راز مې نه پوهېږى
چې زه ګونګى يم او ګونګى خبرې نشي کوى





د حقيار صيب د غزل په اقتفاء

ستا لاس راته غماز شي ستا نظر راته غماز
اخته مې په لوى غم کړي جوړ کړي شر راته غماز

له ښکليو سره ستا لپاره سترګو کې ځاى ټاکم
بيا هلته مونږ نه مخکې وي حاضر راته غماز

منم چې همدردي به په ظاهر راسره وکړي
خپل يار به کړي قاتل زما د سر راته غماز

پيالې چې مو په سر را اړولې واړه يو وو
چې ښېل شوم ځنې جوړ شوله دلبر راته غماز

هغه ته شي سپوږمۍ د خوارلسمې مخته ورشي
خو ماته شي هلال جوړ شي له غر راته غماز

چې سر په لويو غروشم زه روشن د باز نيوو ته
شي خښ به په سينه مې تور خنجر راته غماز

## غزل

ښکلې شي نغمه شي مهربانه شي په تلومې
مینه شي، وفا شي، قدردانه شي په تلومې
پوهېږم چې مندر ته دور تلومې جواز نشته
باور دی چې هندوه مسلمانه شي په تلومې
منم چې په رام رام او په بګوان به یې یقین وي
خو ومنئ چې خلاصه به ایمان نه شي په تلومې
هر وختې ځوابونه کړي چې راشه خو چې ورشم
راپربوځي څه تکه پښېمانه شي په تلومې
داضد دی که پښتو دی چې له ماسره یې کړي نن





ماپرېږدي په محفل کې دا روانه شي په تلومې
وي ستونزو کې راګېره مې د بڼ ښکلې بلبله
یوه یوه ختمېږي او اسانه شي په تلومې
خو کله کله ګوره شي د ورځو مخالفه
ولا جوړ ځناور وي خو انسانه شي په تلومې
روشنه !څه جادو، منتر، تعویذ خو دې پرې کړي
شي تاوه په حجاب کې سره حیانه شي په تلومې

## غزل

پیمانه پیمانه کې زنده ګي ده

د وحشت په زمانه کې زنده ګي ده

له سهاره تر ماښامه همدا یو نوم

یادومه ستا نامه کې زنده ګي ده

پیدا ایښت دی پښه پښه ده کیسه ده

څه جالبه افسانه کې زنده ګي ده

ورنه ځار شمه په زړه پورې یې نیسم

ستا دګوتو نشانه کې زنده ګي ده

یم دوه ګون او پېړۍ وروسته هم سکه یم

پکې اوسم خزانه کې زنده ګي ده

نن دې ولمه اشنا په ګلو ځکه

یارانه ده یارانه کې زنده ګي ده





## غزل

خوب وینم چې ګاره کې ویده شمه

لوړه او نهاره کې ویده شمه

ډېر وخت خاورې وخورم تنده سر وخوري

مار شمه او باره کې ویده شمه

ستړې ستړې وګرځمه دومره چې

سم په لویه لاره کې ویده شمه

ستا د سپین مړوند له خوبه بد وړمه

د ښته وي ریګزاره کې ویده شمه

ګرد شمه له خونې چې مې وباسي

پورته شم هنداره کې ویده شمه

## غزل

ستا یادونه دي او زه یم توره شپه ده

تورتمونه دي او زه یم توره شپه ده

اوس به راشي اوس به راشي اوس به راشي

امیدونه دي او زه یم توره شپه ده

لکه شمع خپله ونه خپله ربېم

څراغونه دي او زه یم توره شپه ده

خوشحالۍ دې رانه یوړې ټولې ټولې

ستا غمونه دي او زه یم توره شپه ده

رنګینۍ دژوندون ستاسو دزړه سره

خو دردونه دي او زه یم توره شپه ده

شکر شکر چې د ستورو همسایه شوې

مزلونه دي اوزه یم توره شپه ده

په روښن باندې ظلمونه به څوک شمار کړي

غرونه غرونه دي او زه یم توره شپه ده





## غزل

د احساس په اوږه ورسي منزل ته

څوک چې ځان رسول وغواړي محل ته

د بېرې ستونزې کړلېچونه شاته پرېږدي

خو پرمخ ځي نه ودرېږي دی خځل ته

د خپل زړه په بیه زړه د جانان ګټي

بې پروا وي هرکلی وایي اجل ته

انتخاب کړي چېرته یو د ډېرو منځ نه

واوا نه کوي په تش نامه غزل ته

د طبعت په لاس جوړشوي کورکې ژوند کړي

هوس نه کوي په لاس جوړ شیش محل ته

## غزل

شپه مې رڼه اوس په سلګو تېرېږي

په خدای په غم او اندېښنو تېرېږي

له زړه مې اور پورته سپرغی پورته شي

ټوله په ګرمو اوښکو تېرېږي

بېلتون دې ټوکوکې شاعر هم کړمه زه

نوربه وختونه په شعرو تېرېږي

انځور دې وینځمه په ترمو اوښکو

سترې لمحې دي په تیرو تېرېږي

ستا بخملینه سینه ستا هغه وربښمینه څنګل

نشته اوس ژوند مې په اغزو تېرېږي

روښنه خوږ ژوند مې د اور په لمبو

وایه چې داسې به ترڅو تېرېږي





## غزل

تانه چې بغیر وي په خوبونو دې اور پورې شي

نور دې هېرومه په یادونو دې اور پورې شي

راشه زړه مې تنګ دی نور په هېڅ تکیه نکوي

خپل وطن نه پرته په ملکونو دې اور پورې شي

ته په خپلو لاسو دي اغزي راکړه خوشحاله یم

لاس چې د رقیب وي په ګلونو دې اور پورې شي

لاس تر زنې ناسته هر د ېوال ته اوښکې تویې کړم

ژوند بې زما وخوږ په سوچونو دې اور پورې شي

مونږه سوله غواړو مونږه تل خوشحالي غوښتې ده

ورک دې شي :روښنه: په جنګونو دې اور پورې شي

### درې بيتونه

یا چې مونږه دواړه نه وای یا بېتلون نه وای جهـــان کې
یا همېش لپاره ژوند وای یا ژوندون نه وای جهـــان کې

چې مغول ، چنګېز هلاک وای هـــــلاکو نه لاره ورکه
یا خو ټول غیرت غیرت وای یا پښتون نه وای جهان کې

چې په تمه د سبـایې نن پرون درې واړه تېر شـــول
یا چې نن پســـې نن نه وای یا پرون نه وای جـــهان کې





### دوه بيتونه

سهارو چـــــې یو چامې په دیـدن باندې اختر کړو
سهار دی چې یو څوک مې په دیدن کـمڅې وباسي

بس دواړه سهـارونه دي په نوم کې یې فرق نشـــــته
خو فرق یې تنهـا دادی سهار راوړم سهـــار مړ کړم